مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبد الغفور لیوال ۲۰۱۹/۱۲/۲۶

د وینا هنري او ښکلاییز معیارونه څه دي؟

د بلاغت او معاني کلاسیکوپوهانو ډېر پېچلي او خورا ګڼ وبې اړتیا صنعتونه د وینا سینګارونه ګڼل، کله به د صنایعو دا ګڼه ګوڼه دومره شوه، چې د وینا منځپانګه به په کې ورکه شوه. نومهالیو بلاغت پوهانو او د معاني څېړونکیو سلا وکړه، چې ګڼ تصنعي، تکلفي او بې مانا صنعتونه وتوړي. له دې ګڼو، څنډې ته ټېل وهل شویو، صنعتونوځنې ځینې یې دا دي:
هزل و مطایبه، تهکم و نزاهت، لغزومعما، ماده تاریخ، ملمع، تجرید، حشومتوسط و قبیح، اجازه، ائتلاف اللفظ و ائتلاف المعنی مع المعنی، متلون، مؤاربه، محتمل الضدین، استخدام... او لسګونه نور.

نوی لید د وینا لپاره دوه لوی ښکلاییز ارزښتونه راپېژني:

یو، هغه هنري ارزښتونه چې د کلیماتو په موسیقي پورې اړه لري او دویم، په وینا کې د تداعي ځواک.
د هنري ـ ادبي وینا د ښکلاییز کچ مېچ محتوایي واحد انځور (تصویر) اوژبنی للون یې د موسیقیت و اهنګ او له جوړښتي پلوه د تداعی کوونکی ژبی کارونه ده.
د خوشال بابا دا بیت وګورئ :

د عالم ډېرې خبرې لـور په لـور تـورې لښکرې
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وي کنه

په دې بیت کې اوږدې (ې) ګانې (ډې، رې، خبرې، تورې، لښکرې) داخلي موسیقي جوړوي، د (لور) تکرار هم موسیقایي ښکلا پنځوي او د دویمي مسرې وروستۍ کلیمه (کنه) د معلوم استفهام لپاره خورا په زړه پورې ټاکل شوې ده، چې هېڅ بله کلیمه یې داسې ځای ډکولای نه شي. د (کنه) پرځای دا کلیمات فرض کړئ (ولاړ، ثابت، پیاوړی...) د قافیې له ستونزې که تېر شئ، نو د مانا له اړخه خو دغه کلیمات ناسم نه دي، خو د ښکلا له اړخه یو هم د (کنه) مانیزه ښکلا نه ښندي.
(غر) په دې بیت کې د زړه مشبه به دی، خو د تصویري تداعي دومره ځواک لري چې یوازې د تشبیه له (ذهني) موقعیته ډېر بر ټاکل شوی دی. د ساده منطق له مخې (زړه مې نه خوځي له ځایه...) د دویمي مسرې اول رکن کې خبره خلاصه ده. که یوازې د مفهوم رسولو خبره وای، نو شاعر همدلته ټوله خبره رسولې ده، د مسرې دویم رکن(... غر خو هسې وي کنه) ټول د تداعي تصویري (هنري) ارزښت دی، چې د وینا د ښکلا لپاره بیانیږي.
د تداعي لپاره ترټولو ځواکمن شی سېمبول یا نماد دی، تر دې هاخوا تشبیهات، استعارې، کنایې، ایهامونه، اسطورې، تلمیحات او د بدیع و بیان نورمهم ارکان د تداعي لپاره استخدامیږي، چې په ګډه بیاني ښکلا پنځوي.
نو،
په وینا کې د کلیماتو موسیقایي او هنري کارونه د تداعي له قوت سره ملګري کیږي او وینا پرې ښکلا مومي. هېره دې نه وي، چې دا دواړه ارزښتونه په هنري ـ ادبي نظم و نثر دواړو کې کارول بویه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ